سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۹/۰۸

# نن په زړه راته سر کیده!

راځه د سـيني تخت ته، نن په زړه راته سر کيده
له مينی جوړبالښت ته، نن په زړه راته سر کيده
روان دی وخت تیریږی، خزانیږی د ځـوانی ګل
راتاو شه لکه لښته، نن په زړه راتـه سر کیده

یو څو شیبی خو واوره، شور او زوږ د مین زړه
سـبا بـه وی ناوختـه، نـن په زړه راتـه سر کيده
لا نه ده رســیدلي، د پخـلی تـر پولي میـنـه
ده لاره مخـکی سخته، نن په زړه راته سر کيده

کلـونه په ما تیر شـول، د بل وخت پـه تـمه تـمه
بل وخت پريده بل وخته، نن په زړه راتـه سر کيده
ډيرسوی په سره اور دی، دا د غوښی زړه بی تا
لږ یوسه غریب یخ ته، نن په زړه راته سر کیده



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

قبـوله کـړه یو نن ، د  کلیوال  یوه غوښـتـنـه

بیا نه در ځم و مخ ته، نن په زړه راته سر کیده

اگست/۲۰۱۸
تورنتو ــ کاناډا